عبدالرحمن فرقـاني نیټه 16/02/2010

***۲۶ د دلوې د افغانانو د ویاړ ورځ***

# د روسانو د وتلو یویشتم کال د روسي امپراتوري د را نڅکوریدو لامل

## په افغانستان یرغل او که له افغانستان نه وتل؟!

د یوې تاریخي پېښي په توګه په کال 1989م دي فبوري په 15 نیټه د روسیي آخري ټانګ له افغانستان څخه ؤ وت, د روسانو وتنه له افغانستان څخه دافغان باتور قوم لپارة یوه لویه او تاریخي لاسته راوړنه ده , هغه ملت چي دی روسي یرغل په وړاندي یي په میرانه او شهامت مقاومت وکړ, څرنګه یي چي د انګلسي امپراتوري په وړاندې په شهامت او میرانه مقاومت کړي ؤ .

د روسانو د څو کالو د حاکمیت په نتیجه کي یو نیم میلیونه افغانان شهیدان ، او تقریبا یو ملیون نور ټپیان او معیوبه شول ، او پنځه ملیونه پاکستان او ایران ته مهاجر شول , د فبوري پنځلسمه نیټه په افغانستان کی دی استقلال او آزادی د ورځي په څیر لمانځل کیږي ، او دا د افغانانو دویاړ ورځ ده ، چي سږ کال د افغانانو په ذاکره باندي ځانګړی اغیزه لري , چیرته چي په هلمند کي د روسانو په څیر وحشي یرغل توره شپه جوړه کړي ده ،د ګنهکار او بي ګناه ترمنځ توپیر نکوي 0

د روسیه ځني کار پوهان او کتونکی د نړیٔ له بعضی کار پوهانو سره په دي باورمتفق دی چي ګواکي د روسیه د امپراتوری د نړیدو لامل او علت په افغانستان باندي یرغل او تجاوز وا , او همداراز د دی یرغل په نتیجه کي یی خپل نړیوال حیثیت هم په منطقه له لاسه ور کړ ،اود روسیي د نظامي مشرتابه په قول روسیي پدي تورو غرونو کي له خپل تاریخ سره سره خپله جغرافیه هم له لاسه ورکړله .

خوپه مقابل لوري کي د روسیي نور کار پوهان او صاحب نظران په دي نظر دي چه د روسیي د امپراتوری د نړیدو لامل او سبب د روسانو وتل له افغانستان څخه دی ، چه په سیمه کي یی خپل حیثیت هم له لاسه ور کړ, او امریکا او اورووپا(نـاټو) ته یي د یرغل او تجاوز زمینه هم برابره کړه ، ورسته له 12 کالو څخه اوس مهال په افغانستان کي د امریکا او ناټو 13 عسکري اډي موجودی دي 0

سربیره په دي دا کارپوهان په دې باور دي ، چه له افغانستان څخه د روسانو د قوتونو وتلو زمینه برابره کړه ، تر څو د شوروي اتحاد له جمهوریتونو نه هم روسان ؤ وځي, او یا په بل عبارت له افغانستان څخه وتل ، د روسیه د امپراتوري د را پرزیدو اصلي لامل ګڼلي کیږي, نوځکه دا هغه تاریخي سیاسي تیروتنه وه ، چه د روسیه د وخت جمهور رئیس ګورباچوف وکړه ، پکار وه چه روسیي خپل موجودیت ته د دیرو نورو کلونو لپارة ادامه ور کړی وی 0

د دې دو متقابلو نظرونو ترمنځ د روسیي دبهرني سیاست موسسي زیار ایستلي دی تر څو د افغانستان په سیاسي جریاناتو کبني خپل تاثیر پریږدي ، او دا تاثیر د افغانستان په تیروسیاسي پیښو کي په ګوته کولي شو، چیرته چه د تاجیك او اوزبك قومونو سره چه د شمالي ټلوالي په نامه شهرت لري ، او احمد شاه مسعود یي مشری کوله نظامي کمك کوي ، او تر خپل سیاسي او عسکري حمایت لاندي یی ساتی , کله چه احمد شاه مسعود د 11 سبتمر نه څو ورځي وړاندی و وژل شو، نو امریکا ته د ۱۱سټمبر حملو زمینه برابره کړه تر څو د طالبانو په حکومت باندي جګړه پیل کړي .

تر اوس مهاله پوري روسان د تاجیکانو او اوزبکانو کلك حمایت کوي ، خو دا یوازي هغه مهمه او استراتیژیکه سیاسي ورقه نده ، چه دي روسانو سیاسي موسسه یی په لاس کی لري ، تر څو د افغانستان په سیاسی کړکیچ کي ورنه کار واخلي ، سربیره پدې روسان هغه اکمالاتي لاره په واک کي لري ، چه امریکایي او اورووپایي قوتونو ته دي نظامی اکمالاتو زمینه برابروي ، او هغه خورا مهمه ځمکنی او هوایي لاره د دوي په واك ده ، چه امریکا او اورووپا(ناټو) میشت قوتونه ور باندي اکمالات کوي0

دا یوه له هغو مهمو ورقو څخه ده چه روسان دی امریکا او ناټو سره په سیاسي خبرو اترو کي ورنه کار اخلي ، او د همدي موقف په اساس کیدي شی چه روسانو خپل د وتلو یوویشتم کال ولمانځي , او مقابل لوري ته دا ورځ دي جمهور رئیس اوبا ما له هغه لید سره سمون خوري ، کوم چه په افغانستان کي د قوتونو زیاتول غواړي ، چه له 34 زرو څخه 68 زرو ته زیاتیږي ، او د دفاع وزیر روبرټ ګیټس یی پخلي کوي او دي څو میاشتو په اوږدو کي به بشپړ شی 0

دامریکا او ناټو یا د ائتلاف د قوتونو د اکمالاتو په رابطه باید روښانه شی چه 80 په سلو کي د ضرورت وړ شیان او 40 په سلو کي د سون مواد یي د پاکستان له خاوره څخه تیریږي ، او د پاکستان د امنیتي وضعیت دخرابیدو په صورت کي امریکا



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

او ناټو بله لاره نلري ، پرته لدې چې د روسانو نه لاره وغواړي ، او ور نه ګټه واخلي ، تراوس مهاله د امریکا او اورو پا د اکمالاتو لپاره د روسیه فضاء خلاصه ده ، او دا دي یو معاهدة په اساس چه تیر کال دي فبوري دي میاشتي په 12 نیټه لاسلیك شوي دي ، همدا رنګه روسانو په ډاګه کړي چه د امریکایانو سره یی یو تفاهم کړي چه په اساس یی دی روسیه له خاوري څخه خپل غیر نظامی اکمالات کولي شی , چه دا په سیاسي ډګر کې یو مهم بدلون دي چې دي دواړو خواوو تر منځ شوي دي ،خو سره له دی د امریکا د استخباراتو موسسه د روسانودهغه هڅې څخه دیره زیانمنه شوه چه لکبله یې روسانو وتوانیدل د امریکا نظامي اډه په قرغیزستان کې وتړي . ویل کیږي چې روسانو قرغیزستان وهڅاوه ، تر څو د امریکا نظامی اډه وتړي ، او دا د روسانو په دو مخي سیاست دلالت کوی0

اوباما د ټاکنو پر مهال د افغانستان ثبات او سیاسي استقرار دخپل خارجي پالیسي د مهمو ټکو برخه وګڼله , اوباما امر کړي ؤ ، تر څو د افغانستان په اړه استراتیژي په دریو سویو په اساس بیا وڅیړل شي ، او پدي بیا کتنه کې د سپیني ماڼي مشاورین ، دفاع وزارت او جنرال دیوید پیتریوس د امریکا د قوتونو مشرتابه په سیمه کې شامل ؤو، هغه استراتیژي چې دافغانستان د ثبات او استقرار لپاره منظوره شوه ، او دتنفیذ لپاره یې په سیمه کې خاص استازي هالبروک وټاکل شو ، چې سیمي ته په تګ راتګ ستړي شو ، خو کوم ځانګړی پرمختګ ونشو 0

اوس مهال په افغانستان کی څلوېښت دولتونه کار کوي ، او په سلګونود بیا رغوني موسسي او مرستندویی موسسي کار کوي ، چه ملګری ملتونه اود اتلاف ځواکونه هم په کې شریك دي . د اوروپا 13 ټیمونه او دنړیوال 26 ګروپونه د افغانستان په بیا رغونه کې په مختلفو منطقو کې مصروف دی . اکثریت د دغو موسسو په افغاني ټولنه کې پرته له اداري فساد څخه بل څه ارمغان ندي راوړي ، هغه کومکونه چې نړیوالي ټولني د افغانستان د بیا رغوني لپاره وړاندي کړي ؤ، د همدغو موسسو په ذریعه له افغانستان څخه وتلي ، دبیا رغوني په ځاي یې یوي طبقه خلک په رشوت اخیستلو عادت کړل ، او خپل افغاني غرور او شهالت یې له لاسه ورکړ .

د افغانستان مسلمان اوخپلواک ملت هیله من دي چې د لودیځ دمتجاوز او یرغلګر ځواک د وتلو ویاړ به هم وګټي . ان شا الله تعالی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ